# صورت حال جلسه عمومی مشرانوجرگه

# مورخ ۹ جدی ۱۳۹۷ هجری شمسی

**فضل هادی مسلم یار:**سناتورصاحبانو سترې مشئ سهارمو نیکمرغه، منشي صاحب آجنډا قرائت کړئ.

**استاد محمدطیب عطا:**یونۍ د ۱۳۹۷ کال د مرغومي دمیاشتې نهمه نیټه.

آجنډا

دقرآن کریم د څومبارکو آیتونو تلاوت.

دملي سرود خپرول.

۱- آزاد بحث دنصاب تربشپړېدو پورې.

۲- د ورکو شویو کسانو په اړه د بین المللي چارو دکمیسیون د دریځ او د دندو د هوکړه لیک په هکله خبرې اترې.

۳- د روسیې هیواد ځخه د مشرانو جرګې د پلاوي د سفر د رپوټ اوریدل.

۴- دآذربایجان هیواد څخه د مشرانو جرګې دپلاوي دسفر درپوټ اوریدل.

دعائیه او دنن ورځې د غونډې د پایته رسیدو اعلام.

**داکترمحمدفیصل سمیع:** یکشنبه نهم ماه جدی سال ۱۳۹۷

آجندا

تلاوت آیات چند از کلام الله مجید.

پخش سرود ملی.

۱- بحث آزاد الی تکمیل نصاب.

۲- بحث روی موافقتنامه،جایگاه ووظایف کمیسیون امور بین المللی درباره افراد مفقودالاثر.

۳- استماع گزارش هیئت مشرانو جرگه از کشور روسیه.

۴- استماع گزارش هیئت مشرانو جرگه از کشور آذربایجان.

دعائیه واعلام ختم جلسه امروزی.

درابتدا آیات چندی از قرآن کریم تلاوت وبعدا سرود ملی دولت جمهوری اسلامی افغانستان پخش گردید.

آزاد بحث

**گل احمداعظمی:**دیپلوماسی وستراتژی نامعلوم ایالات متحده آمریکا مردم ما را نگران ساخته است، یک روز حضور،روزدیگر خروج، روزدیگه مبارزه آشتی ناپذیرو روز دیگه مصالحه بیدون قید وشرط با مخالفین مسلح دولت.همسایه های ما با مشاهده این وضعیت درکمین نشسته اند ومی خواهند از اوضاع استفاده سؤ نمایند بنا ما از دولت آمریکا می خواهیم تعداتی را که بادولت افغانستان دارد پابند باشد.

راه های مواصلاتی ناامن اند مخالفین حکومت گمرکات را جمعآوری می نمایند ازشعار باید به عمل برویم ازشعار دادن چیزی بدست نمی آید.جمعآوری پوسته های نظامی وپولیس تحت بهانه اینکه ما بیز می سازیم عملکرد درست

نیست بیزهاهم سقوط می کنند برای حکومت لازم است که نیروهای نظامی، امنیتی را تجهیز وتسلیح نماید وحمایت مردمی را باخود داشته باشد.وسایط نظامی که در دسترس مخالفین نظامی قرار دارند باید ازبین برده شوند.

**رحمت الله اڅکزی:**طالبانو بیاهم له افغان حکومت سره دخبرو کول رد کړل،موږ مخالفینو ته خواست کوو چې نور په دې کړیدلي ولس رحم وکړي او دجګړې د پایته رسولو په منطقي لارو چارو فکر وکړي.

زما په نظر دحل لاره خو داده چې آمریکا له طالبانو سره دخپلو پوځونو د وتلو په لارو چارو یوله بل سره هوکړې ته ورسیږي که داسې هوکړه لیک را منځته نشي نو دا مذاکرات به ناکام شي.

دفټبال دفدراسیون په دننه کې چې کوم اخلاقي فساد په هکله چې کومې آوازې رواني دي زموږ دولس اندیښنې یې زیاتې کړې دي له لوی څارنوالي څخه غواړو چې په دې تړاو خپلې پلټنې ګړندی کړي او نتایج یې ولس ته اعلان کړي.زما دا نظردی چې خویندو ته د لوبو شرایط په کورو کې دننه برابر شي.

دملکي او پوځي ادارو ترمنځ باید هم غبرګ رامنځته شي دغزني امنیه قوماندان وایي چې په غزني که ایراني وسلې نیول شوي دي دهلمند والي دایران لاس وهنه تایید کړه او دهرات امنیه قوماندان اعتراف وکړ چې ایران دهرات په ناامني کې لاس لري خو دبهرنیو چارو وزرات بیا دغه موضوع ردوي.

**صدیقه بلخي:**ازشجاعت وزرای دفاع وداخله ستایش میکنم،ازمردم می خواهم که از ارګانهای دفاعی وامنیتی حمایت نمایند.

**امان الله عظیمی:**دامنیتي او دفاعي چارو له چارواکو غوښتنه کوم چې د ارزګان ولایت دامنیت تامین او دلارو خلاصون ته پام وکړي.

**سیدصفی الله هاشمی:**ازیکسو مذاکرات صلح وختم جنګ افغانستان درجریان است ازجانب دیګر کشورهای همسایه می خواهند ازاین اوضاع به نفع خود استفاده نمایند واز اظهارات وزرای دفاع وداخله چین پیداست که حکومت هم می خواهد نیروهای مسلح را ازحالت دفاعی کشیده به حالت تهاجمی درآورند.ازجانب دیګر بین سران حکومت وحدت ملی در رابطه با صلح وجنګ وتعاریف دوست ودشمن اختلافات وجود دارند.پیشنهاد می نمایم که هم مردم وهم سران حکومت وحدت ملی وحدت ویکپارچګی خود را حفظ نمایند.

**محمدرحیم حسن یار:**سرو صدای خروج ویا حضور نیروهای خارجی منحیث وسیله فشاربالای حکومت ونیروهای امنیتی ودفاعی کشور راه اندازی شده است وبرعکس تلاش صورت می ګیرد که دست مخالفین را در این مبارزات مسلحانه بلند نشان بدهندمن فکرمی

کنم که آمریکا درخاورمیانه منافع خود را باخطر مواجه نخواهد ساخت وافغانستان را ترک نخواهد کرد.امیدوارم که حکومت افغانستان مدیریت مذاکرات را بدست بگیرد.اگرصلح بین الافغانی نشود ودرمورد قطع جنگ مشترکا فکر نشود هیچگاهی جنگ قطع نخواهد شد.

**لطف الله بابا:**دحج وقت رانږدې شوی دی د حج او ارشاد وزارت تراوسه په دې برخه کې کوم ګام نه دې پورته کړې هرکال دافغانستان حاجیان دنامناسب ځای دنشتون له امله شاکي وي،دتدارکاتو ملی کمیسیون باید ددغې پروسې تنظیم دحج او ارشاد وزارت ته وسپاري چې په خپله یې دتنظیم چارې پرمخ بوځي.بل وړاندیز مې دادې چې دحاجیانو د لیږد را لیږد په برخه کې باید دآریانا افغان هوایي شرکت ته ښه غوښتنه ونهږ ورکړل شي چې دا شرکت په خپلو پښو ودریږي.

**مولوی عبدالله قرلق:**ازوزرای دفاع وداخله حمایت می کنیم ولی می خواهیم که ازحرف به عمل بیایند.

ازجانب دیگه می خواهم بگویم که صلح نیازمبرم وحیاتی برای ملت ما است اما در پروسه صلح یک مقدار پنهانکاری ها وجود دارندمردم حق دارند ازسرنوشت شان آگاهی داشته باشند.

قراراست که یک ماه بعد مذاکرات صلح در جده برگزار شوند امید وارم که دراین روند مخالفین با هیئت حکومت افغانستان ملاقات داشته باشندوروی تبادله اسیران،اوربند و انتخابات آینده به توافقات دست یابند.

**سارا سرخابی:**ازاقدام جناب رئیس صاحب جمهور مبنی برتقرر وزاری جدید دفاع وداخله حمایت می کنم.

**استاد محمدطیب عطا:**په ټولو امنیتي ځواکونو ویاړم او نویو ټاکل شویو وزیرانو ته په نویو دندو کې بریالیتوب غواړم،زه وړاندیز کوم چې دکونړ ځنګلونه په ډیره بې رحمي سره غوښ او قاچاق کیږي باید مخه یې ونیول شي او دځنګلونو دساتنې دپاره یوه شنه قطعه جوړه کړي.دوهم وړاندیز مې دادی چې د مشرقي دبرښناتامین ته باید پام وشي.

**نفیسه سلطانی:**لومړی خو داوایم چې دسولې دروانو خبرو دبریالیتوب هیله لرم او هم له اداري پلاوي څخه غواړم چې دمعلولینو قانوني غوښتنې واوري او د هغوی غږ حکومت ته ورسوي.

**فضل هادي مسلم یار:**دنفیسه سلطاني دخبرو په تړاو باید ووایم چې معلولین او هربل صنف حق لري مدني غوښتنې طرح کړي موږ ددې حرکت ملاتړ کوو په دې تړاو لومړی نایب صاحب هلته ورغی تاسو هم کولی شی له هغوی سره خبرې وکړئ موږ هم ددوی غږ له دې تریبیون څخه پورته کړې ده.

دسولې په تړاو بحث وشودسنامجلس موقف همدا ده چې دسولې له پروسې ملاتړ کوو او له طالبانو غواړو چې دافغانستان له حکومت سره خبرې وکړي چې موږ خپل منځ کې هوکړې ته ورسيږي او ديوتل پاتې سولې په لارکې ګام پورته کړو.هم له نړيوالو او هم دسيمې له هيوادونو غواړو چې دافغان سولې په بهيرکې له موږ سره دوه مخې سياست ونکړي او صادقانه ددې جګړې په پايته رسولو کې مرسته وکړي دوه مخه سياست دهيچا په ګټه هم نه دی که صادقانه چلند له ټولو اړخونو وشي نو تل پاتې سولې ته رسيدل به آسانه شي.

دفټبال فدراسيون په تړاو خبره وشوه په ربنتياهم دا خبر بړنونکی ده لوی څارنوالي او اړوند ارګانونه لګيا دي چې د قضيې څيړنه وکړي.

ددفاع او کورنيو چارو دنويو وزيرانو دبرياليتوب دپاره ټولو هيله څرګنده کړه موږ هم ورته مبارکي وايو الله پاک دې کامياب ولري.

دارزګان دامنيتي وضعيت او دلارو دناامنې په تړاو جناب عظيمي صاحب خپله اندينښنه څرګنده کړه او له امنيتي،دفاعي چارواکو يې وغوښتل چې ددې لارو د امنيت ټينګښت ته پام وکړي موږ هم په خپل وار له هغوجنابانو غواړو چې دټول افغانستان امنيتي وضعيت ته توجه وکړي په ځانګړې توګه د ارزګان د امنيت تامين ته.ملت د دفاع او کورنيو چارو له وزيرانو هيله لري چې دشعارونو پرځای عمل وکړي او دهيواد د امنيت په ټينګښت کې کوټلې ګامونه اوچت کړي.

دګاونډيانو دشومو اهدافو او لاس وهنو په اړه خبرې وشوې که موږ په خپلو کې سره يوموټی شو نو ګاونډيان به هيځکله زموږ په کورنيو چارو کې دلاس وهنې جرئت ونکړي الله تعالی دې موږ ته سياسي لوړ شعور راکړي او ديووالي وس توان دهم راکړي.

دحج د پروسې په تړاو خبرې وشوې اړوند کميسيون دې په دې برخه کې کاروکړي او دهغې دتسهيل لارې چارې د ولټوي موږ نبايد د دې پروسې په چارو کې خنډونه رامنځته کړو پخوا هم په دې تړاو د ولسمشر مرستيال له اړوند ادارو سره کارکول اوس يې هم کوي.تاسو نغوته درلوده دې ته چې د آريانا افغان هوايي شرکت ته بايد دحاجيانو د ليږد رالیږد په برخه کې ونډه ورکړل شي موږ هم دا نظر تاييدوو چې دا شرکت هم په پښو ودريږي.

نصاب پوره ده دروابط بين المللی کميسيون رئيس او غړي د راشي او هوکړه ليک د ولولې او خپل نظريات د ووايي.

دنړيوالو چارو کميسيون رئيس جاويد روف او غړو د ورکو شويو کسانو په اړه ديو بين المللي کميسيون د جوړيدو هوکړه ليک ولوست او د

مشرانو جرگې څخه يې وغوښتل چې دا هوکړه لیک تصدیق کړي.

**فضل هادي مسلم یار:** دهوکړه لیک په تړاو څوک نظرلري؟ ښه چې نظرنشته نو ځو رای اخیستنې ته که موافق یاست شنه کارتونه او که مخالف یاست سره کارتونه پورته کړئ. هوکړه لیک درایو په اتفاق تصدیق شو.

دآجنډا په بله برخه کې دمشرانو جرگې لومړي مرستیال محمدعلم ایزدیار روسیې هیواد ته دمشرانو دپلاوي دسفر رپوټ عمومي غونډې ته وړاندې کړدغه رپوټ د مجلس دغړو لخوا وستایل شو،همدارنگه دمشرانو جرگې بل پلاوي د مولوی عبدالله قرلق په مشرۍ د آذربایجان هیواد ته تللې وو ددغه پلاوي د سفر رپوټ هم دنبیه مصطفی زاده لخوا غونډې ته وړاندې شو.

###